# فَإِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فَاعْتَمِرِي، فَإِنَّ عُمْرَةً فِيهِ تَعْدِلُ حَجَّةً». «كله» چې رمضان راشي، نو عمره وکړه، ځکه په رمضان کې عمره (په ثواب کې) د حج سره برابره ده

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو یوې ښځې ته وفرمايل چې ابن عباس يې نوم واخیست او زما څخه يې نوم هېر شو: «مَا مَنَعَكِ أَنْ تَحُجِّي مَعَنَا؟». « څه شي منع کړې چې زموږ سره حج وکړې؟» هغې وویل: موږ یوازې دوه اوښان درلودل نو خاوند او زوی يې په یوه اوښ حج ته لاړل او بله اوښه يې موږ ته پرېښوده چې اوبه پرې راوړو، هغه وفرمايل: «فَإِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فَاعْتَمِرِي، فَإِنَّ عُمْرَةً فِيهِ تَعْدِلُ حَجَّةً». «کله چې رمضان راشي، نو عمره وکړه، ځکه په رمضان کې عمره (په ثواب کې) د حج سره برابره ده».

[(صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له حجة الوداع څخه راستون شو نو یوې انصار ښځې ته يې وویل چې حج يې نه و کړی: څه شي منع کړې چې موږ سره حج وکړې؟ نو هغې عذر وړاندې کړ چې دوې دوه اوښان درلودل، نو خاوند او زوی يې په یوه باندې حج وکړ او بل يې له خاه څخه د اوبو راوېستلو لپاره پرېښود. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې د رمضان په میاشت کې عمرې ثواب د حج له ثواب سره برابره دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2753